
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوديال ۲۰۲۶/۰۸/۰۳

# د محمد ګل خان مومند اداري اجراء تو ته

## د اوسني وخت له نظره کتنه

## (د اروابناد د وفات د دوه‌شپېتم کال په مناسبت)



**لنډه پيژندنه**

له نن څخه ۶۲کاله مخکې محمد ګل خان مومند کابل کې وفات شو. نوموړی د محمد خورشيد خان زوی،د مومن خان لمسی په ۱۳۰۳ هجري قمري کال د کابل د اندرابيو په کوڅه کې زيږېدلی دی. لومړنۍ زده کړه يې په خصوصي ډول تر سره او په ۱۳۲۷ ل. کې په حربي ښوونځي کې شامل شو. پنځه کاله يې عسکري تعليم سرته ورساوه او د اردليانو په غونډ کې د قومندان په صفت وټاکل شو. په دغه وخت يې هم شاهي ټولګي ته درس ورکاوه او هم يې د حربي ښوونځي د ښوونکي په توګه دنده لرله. د دغه خدمت په نتيجه کې د سپه سالار صالح محمد خان د ياور په توګه وټاکل شو او بيا د شاهي ګارډ قومندان شو، يو څه وخت يې په ترکيه کې د افغاني سفارت د نظامي آتشې په توګه کار کړې دی.مومند څه موده د(مجموعه عسکري)د مجلې مسئول مدير و چې د حرب د وزارت له خوا خپرېدله .
محمد ګل خان مومند دسياستوال، يو فعال وزير ، اديب او ليکوال، ولسي مشر او د ملی نامتو څيرې په توګه پېژندل کيږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

## د محمدگل خان مومند د رسمی اجرااٴتو ارزونه:

ملتونه د خپل تاریخ په اوږدو کې د سیاستوالو او نورو اغیزمنو کرکترونو او نامتو څېرو کړنې د خپلو ملي ارزښتونو او د هغه مهال له شرایطو سره سمي او د نړیوال حالت له مخې ارزوي. وزیر محمد گل خان د افغانستان ډېرو نازکو حالاتو کې لویو مسئولیتونو سره مخ شو.
د اتلسمي پیړۍ پای او د شلمي پیړۍ پیل د افغانستان لپاره ډېره حساس وخت و. ختیځ کې د خپلواکۍ غوښتنو جذبه پیاوړې او د ملی حاکمیت لرلو تفکر پیاوړی شوی و. د دغو کلونو شاخص ټکي؛ د امیر شیرعلیخان د صنعتی کولو ریفورم، د شاه زمان خپلواکي پالونکی فکر، دسید جمال الدین افغان اصلاحی پروګرام، افغانستان کې د مطبوعاتو لومړني ستوري ځلېدل، د مشروطیت غورځنګ، په هېواد کې لومړنی مکتب جوړېدل وو. د نړۍ په کچه لومړۍ نړیواله جګړه پای ته رسېدلي وه پرله پسې نوي بدلونونه روان وو. ۱۹۱۹م.کال کې د امان الله خان په درایت او لارښوونه د افغانستان له داخلي او بهرنیو چارو د انګریز لاس لنډ او سیاسي استقلال څخه وروسته ګړندي مترقي ګامونه اوچت شول. اقتصادی او فکري استقلال ته رسېدل یوه آرمانی خبره وه، چې پاچا دغې موخې ته د رسېدو لپاره ګړندي ګامونه اوچتول. له بده مرغه د زوړ استعمار په پټ لمسون دغه ریفورمونه وځپل شول. افغانستان یوه نهه میاشتنۍ تیاره دوره تېره کړه، خو بېرته د ثبات په لاره شم شو. په دغو ټولو کلونو کې زړورو افغانانو خپل رشادت ثابت کړ.

د دغې دورې په سیاسي او اداري چارواکو کې یو وزیرمحمد گل مومند و. هغه تر ډېره یو نظامي رسمي چارواکی و، ترهرڅه مخکې هغه ته د شرایطو د غوښتنې له مخې د نظام مستحکم کول او سراسري امن مهم و. د نظامي او ملکي دندو په ترڅ کې په ۱۳۰۳ هجري شمسي کې د پکتیا عسکري قومندان او اعلی حاکم او بیا د مزار شریف د ملکي پلټنې رئیس و. پر کابل د حبیب الله کلکانی د حاکم کېدو په وخت کې یې لومړی له سردار محمد هاشم خان سره او بیا یې په پکتیا کې له سردار محمد نادرشاه سره ملا وتړله . دا ځکه هغه وخت د امانی نهضت او وطنپاله مترقی ریفورمونو په پرتله دسقوی ناقص حکومت تدابیر او برنامه ډېره وروسته پاتې او د وطن د ځوان نسل په زیان وه.
له سقوی دورې څخه د افغانستان له خلاصون وروسته محمد گل خان د سردار محمد هاشم خان په کابینه کې د کورنیو چارو د وزیر په توګه وټاکل شو، بیا وروسته په ننګرهار او بیا پروان کې د تنظیمه رئیس په توګه مقرر شو.په دغو ولایتو کې یې چې پوره کراري راوستله نو بیا په ۱۳۱۱ شمسي کال کې د کندهار او فراه د ولایتونو د تنظیم لپاره ولېږل شو.

په شمال او شمال غرب سرحداتو کې د هغه وخت نظامی او دفاعي رجالو ته یوه ډېره ترخه تجربه پاتې وه؛ هغه د جنرال غوث الدین خان دوره وه، چې د وطن د یوه صادق سرباز په توګه یې د پنجده په ساتنه کې رول ولوباوه.
غوث الدین خان ته څه ورپېښ شوي وو؟

دغه پېښه د اروابناد غبار څو لیکنو او له هغې جملې د( افغانستان در مسیر تاریخ) کتاب کی په تفصیل راغلی ده:
غوث الدین خان د لوګر او په قوم (اورمړ) و، په ۱۸۸۵ل. وضعیت داسې پیښ شو چې هرات ته نږدې، د روسیې او ایران ترمنځ باید کرښه په ښکاره نښو ښودل شوي وای. دا وخت انګریزان ایران کې وو. د روسیې له لورې (الیخانوف) او د انګریز له خوا ډګروال ریجوی د پولو ټاکلو ته ګومارل شوی وو. دغو ورځو کې امیرعبدالرحمن خان هندد ته په سفر وتلی و، ډېره حساسه موقع وه. انګریزانو(ریجوی) د کرښې کښلو کې تیری کاو او غوث الدین خان یې د روسی هیئت په وړاندې تحریک کړ، چې د اقتپې سیمه کې د افغانستان یوه اندازه زمکه تر تیری لاندې راغله. غوث الدین خان په عالی مهارت سره دوی سره لومړی دیپلوماتیک چلند او کله چې جګړې ته مجبور شو، په مېړانه یې دفاع وکړه. انګریز نه یواځې روسی سرحدی ځواکونو سره د خبرو پر مهال، بلکې د جګړې په ترڅ کې هم له دوکې او دوه مخۍ کار واخیست، جنرال غوث الدین خان یې یو بد موقعیت کی راوست. افغانی پوله ساتو سره وسله کمه او سپاهیان یې هم لږ و. انګریز غوث الدین خان سره وعده وکړه چې روسانو سره جنګ شروع کړي، وسله به دوی ورکړي، خو کله چې جګړه ونښته غوث الدین خان په میرانه وجنګېد، وسله او کارتوس یې خلاص شول، له انګریز څخه یې د وسلې مرسته وغوښته، خو هغوی مرسته ونه کړه. غوث الدین خان په تش لاس تراخره د کرښې او د آقتیپې دفاع وکړه، سرتیری یې شهیدان شول، خو په شا نشو. بالامرغاب کې یې هم د دواړو دښمنانو په وړاندې میرانه څرګنده کړې وه. کله چې امیر له هند څخه راستون شو او د پېښې بشپړ راپور یې واورېد، د غوث الدین خان د دغې میرانې په بدل کې یې ورته د جنرالی رتبه منظور کړه. نوموړې هغه وروستی سرتیری و چې د هېواد د شمال او شمال غرب پوله لوېشت په لوېشت ورته معلومه وه. داسې ویل کیږی چې، ایران هم په ډېرو سیمو کې د هغه وخت نښې له منځه وړي دي. ایرانیانو آن هغه د ریجوی له اصلی کرښې هم نیری کړی دی. د غوث الدین خان وروستۍ خبره دا وه: تا که من زنده ام احدی از اجنبی به این زمین پاک قدم نخواهد گذاشت، ولی اگر زنده نبودم ...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د غوث الدين خان دغه درس افغانستان ته يو عبرت و، نو ځکه يې د شمال پولو ته کلک پام کاو. کله چې محمدګل مومند دغو ولايتو کی موظف و نو د پنجده پېښو او د ايران، انګليس او روسيې مکر او فريب دی اړ کړ، چې د هېواد د پولو د ساتنې لپاره د حفظ ماتقدم تدابير ولري، لکه مارچيچلی چې له پړي هم وېره ولري.

هرهېواد کې؛ په تېره بيا هغه ټولنه چې نوې له هرج - مرج وتلي وي، دسپلين او امنيت راوستل لومړيتوب دی. محمد ګل خان همدغې موخې ته وفادار پاتې شو. په ۱۳۱۳ل. کې يې د قطغن، بدخشان، مزارشريف او ميمنې ولايتونو د تنظيمه رئيس په توګه د دغو ولايتونو چارې سمبال کړې. هغه وخت دغه سيمې د اقتصاد، تعليم او مواصلاتو له پلوه ډېرې وروسته پاتې وې، خو تنظيميه رئيس هر ځای کې خپله اسلامي او رسمي دنده په پوره ايمانداریَ سرته ورسوله او د خپلو ښو خدمتونو په خاطر يې د(لمراعلی)لوړ نښان واخيست. کوم وخت چې په کندهار کې تنظيمه رئيس و، نو هلته يې په ۱۳۱۱ل. کال يو ادبی انجمن جوړ کړ چې بيا همدغه انجمن کابل ته راوغوښتل شو او د کابل له ادبي انجمن سره يو ځای او بالاخره په ۱۳۱۶ ل. کې د افغانستان د اوسنیَ دعلومو اکاډمی لپاره يو بنسټ شو. په کندهار کې يې ډېر ځلميان وروزل او د وطن د خدمت ميدان ته را ووتل. د کندهار طلوع افغان هم د ده په امر فعال شو او د محمديه مدرسه يې تاسيس کړه، د ښوونځيو ودانول يې بشپړ، د ځوانو ليکوالو روزنه يې وکړه ، د ميرويس نيکه د مزار ودانیَ يې جوړه او د سړکونو او لارو سيستم يې عصري کړ. ورپسې په ۱۳۱۹ کې د دولت د وزير په توګه مقرر شو. تر ۱۳۲۷ل. پورې د هېواد دشمال ولايتو اوپه تېره سمنګان کې اوسېده، له دغو ولايتونو او د هغو له آبادي او ثبات سره يې ډېره مينه وه. بيا په دغه کال د غازي شاه محمود خان د صدارت په وخت کې کابل ته راغی او پاتې عمر يې په کابل، ننګرهار او د کونړ په نرنګ کې تېر کړل. وزيرمحمد ګل مومند په ۱۳۳۴ل. کال د يو مجرب سپينږيري په توګه د لويی جرګې د رييس په توګه غوره شو او خپله ملي دنده يې په ښه ډول ترسره کړه. دا زموږ په تاريخ کې يوه نيکنامه لويه جرګه وه. همدا وخت د افغانستان د عصری کولو پينځه کلن لومړني علمی اقتصادی اجتماعی پلانونه جوړول پيل شول او لومړنی پلان په ۱۳۳۵ل. کال تر اجرا لاندی راغی چې دا اوسني ټول زيربنايي تاسيسات د هماغه وخت دي. تر ټولو مهمه دا چې دا وخت د معارف يوه ځلانده دوره پيل شوه. د دې رڼې او له ستونزو ډکې دورې نور نومونه؛ عبدالمجيد زابلی، عبدالهادی داوی، م.غ.م. غبار او د ويښ زلميانو دغورځنګ نامتو څېرې وې. دا وخت د هغه وخت د شرايطو مطابق متخصص تکنوکراتان لکه ملک عبدالرحيم زی او نور د کار په ډګر کې وځلېدل د وخت د صدراعظم محمد داوود خان تر لارښوونې لاندې پينځه کلن اقتصادی پلانونه پيل شول. دا ټول دهغه انضباط او ثبات پايله وه چې په ډېرو خواريو ترلاسه او د اقتصادی پرمختيا د ګامونو د اوچتېدو امکان برابر شو. افغانستان د درې ګونو قواوو په تفکيک د يوه ډېر ښه اساسي قانون خاوند شو.

په دې توګه د اقتصادی برنامو د تطبيق لپاره د دسپلين د حاکمولو په لړ کې زغرد ګامونه اوچتول په کار و. ډېر ژر په کندز کې د پُنبې کښت او زراعت ته دزمکو چمتو کول پيل شول، مالداری او لاسی صنعت وده وکړه، شرکتونه تاسيس او د (لندنی) په نوم يوې سوداګرې کورنیَ تجارت ته رونق ورکړ، د شيرخان او عبدالمجيد زابلی اقتصادی ريفورمونه همدا وخت عملی شول. د محمد ګل خان مومند رول د هېواد د ترقی، استحکام او د وخت له غوښتنو سره سم د ملی- دولت او منضبط نظام د راوستلو او د خاوری د تماميت د ډاډمنتيا برخه کې په پوره صداقت و. د مسلک او د هغه وخت د شرايطو له اقتضا سره سم؛ د ده په وجود کي عسکريت، سياسي پوهه، ملی احساس او ادب ټول را يو ځای شوي وو، دعمل سړی او د سختيو زغمونکی، د انضباط لرونکی، قاطع او ترلاس لاندې کسانو څخه يې کار غوښت، لټي يې نه خوښېده، نه يې غوښتل هيڅ افغان د نورو د اوږو بار يا نورو ته سترګې او تمه ولري، همتناک خلک يې خوښ وو.

دغو اوصافو نوموړی ظاهراً د يوه کلک دريځي آمر(اوتوکرات) په توګه وښود، خو دا دهغه وخت دشرايطو حکم و. خپل ژوند يې هم ډېر فعال او ستومانه و او فکر يې داو چې د د پيسو پر ځای کيسې وګټې. دنه ستومانه کيدونکي کار ترڅنګ، اغيېزمن خطيب او ويناوال هم و، په ويناوو کې يې پوره فصاحت و، ښه ليکوال و چې نثر يې هم د مانا او هم د عبارت له مخې خورا ځواکمن نثر دی، دا اوس هم د ده نثر د ځوانانو لپاره د بيلګې حيثيت لري. خبرو او وينا کې يې زيات جرئت او ځواکمن منطق و. هر مهال او هر ځای به يې له اخلاقي زړورتيا څخه کار اخيست، او هيڅکله يې له رښتيا وينا څخه ډډه نه کوله. که به يو حقيقت څومره تريخ هم و، ده يې له ويلو مخ نه اړاو.
د ده رول د وخت او شرايطو د حکم له مخې په نظم او استحکام کې مهم ثابت شو. پرته له دې بله لار نه وه. هغه د خپل رسمي ماموريت په پای کې نه ارګاه وبارګاه، نه سره او سپين، نه کلاوی او باغونه او نه هم جايدادونه لرل. هغه د وخت او شرايطو سره سم، خپل رول بريالی ترسره کړ. د خپل ستومانه ژوند وروستي کلونه يې يوه عادي کورکې په عزت سره تېر کړل. اروابناد د ۱۳۴۳ شمسي کال د زمري د مياشتې پر ۲۷مه نېټه د سې شنبې په ورځ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاریَ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د سهار پر اته بجو د اتيا كالو په عمر د كابل ښار د بريكوټ په سيمه كي يوه كرايي كور كي د اتيا كالو په عمر وفات شو.

د اروابناد محمد ګل مومند فاتحه د پوهني د وزارت له خوا د اسد پر ۲۸مه نېټه دشېرپور په لوی جومات كي واخيستله شوه.د ده د فاتحي مراسمو ته د ظاهرشاه په ګډون ډېر لوړ پوړي چارواكي راغلي وو.محمد ګل خان مومند نارينه اولاد نه درلود يوازي يوه لور يې درلوده چي په خپل ژوندون يې د ننګرهار د صالح محمد خان زوی ته واده كړې وه. اروابناد مومند پر سياسي او عسكري خدمتونو سربېره په علمي او ادبي برخو كي هم پاخه ګامونه اخيستي وو. د تقاعد پر مهال يې يو قاموس ترتيب كړ چي د ليكلو لپاره يې د ډېرو كلونو په ترڅ كي د لغاتو په را غونډولو لاس پوري كړی و، خو د كتاب په شكل په ۱۳۱۶ شمسي كال كي د كابل په عمومي مطبعه كي چاپ شو. اوس يې اته ناچاپه كتابونه سته چي كېدای شي نشر شي.

لكه چي مخكي وويل شول، اروابناد مومند په داسي وخت كي ژوند كاو چي د ملی نهضتونو دوران او نړی كي دملتپالني د روحيي دوران و، نو ځكه ده خپل يو كتاب كي داسي ليكلي و: "هر څه چي دي، د ملت سعادت، سلامتيا، عافيت، راحت، عزت، ملي شتوالی، سره ژوندون، په عزت سره مړينه او له نړی څخه په ښه نامه تګ دا ټول د ملي يووالي، ملته پورې او ملت او يووالي د ملي فكر پورې اړه لري، كه ملي فكر خلل مينده كړ، دغه ټول خلل مينده كوي او كه محو شو، نو ټول محو كيږي او د دغه ملت نوم او نښه د نړی له مخ څخه وركيږي". د اروابناد دا فكر نه تعصب و، نه قوم پرستي، بلكي د ده د دوران د هغه ملتپاله تفكرانعكاس و، چي هغه وخت دا ډول فكر له اروپا تر مصر او هند پورې مسلط، معقول او مقبول طرز تفكر و.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزي بني پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له رااليرلو مخكي په ځير و لولئ